# د شفاهي روايت او د فولکلور علمي او تحقيقي بنسټونو يوه عمومي جايزه

Academic and Research Foundations of Oral Tradition and Folklore of Pashto Language

برکت شاه کاکړ*

**Abstract:**

This paper is focused on the historical and etymological traces of the term Folklore and further investigates the socio.political, scholastic credibility of Folklore. The historical accounts indicates that most of the nationalist movements in the 20th century and before have been stemmed in the folklore as vital sources of nations self image and political empowerment. It uncovers interesting dimensions of the folkloric knowledge and wisdom that can shift the contemporary understanding of the people and societies. Conclusion of the paper is mainly forward looking and it narrates that how the untapped creative energy and hidden research questions could be unearthed through the collection and analysis of Pashtu folklore.

پر ځای ددې چې لومړی د فولکلور پر علمي، هنري او تحقيقي اړخونه نظر واچول شي، بايد ددې تکي د معنا او مفهوم تاريخي او اشتقاقي اړيکې وڅېړل شي. په عامه اصطلاح کښې فولکلور د اولسي ادبياتو بيلا بېلو برخو ته وئيل کيږي. د علم اشتقاق* (Etymology) له رويه د (folk) صيغه په نولسمه صدۍ کښې د يورپ د علمي او فکري پاڅون په دوره کښې د بزګرانو او کليوالو خلګو دپاره کارول کېدي يا په بله معنٰی د اولنيو او پخواني زمانې د خلګو دپاره کارول کېدې" (1)

په اصل کښې دا تکی د جرمني ژبې د "Fulka" څخه راخيستل شوی دی چې د اولسي ډلي يا لښکر دپاره هم کارول کېږي. له دې وروسته مونږ د دغه توري دويم سيلاب " lore" ته هم راځو چې په عامو ټکو کښې د مينې او پوهنې په معنٰی کښې استعمالېږي. ډاکټر

* Barkat Shah Kakar, Lecturer Department of Pashtu University of Baluchistan Quetta

* علم اشتقاق د ټکو او تورو ريښې څېړي

مجاوراحمد زيار په خپل قاموس کښې د دې ټکي دپاره " وګړپوهنه"(2) کارولې ده. د قاموس له رويه فولکلور ته اولس پوهنه (د خلګو دود، انګېرنې، ادبيات، موسيقي) هم وئيلی شو.

د نړۍ د علمي تاريخ له بامه چې مونږ ودې توري ته نظر وراچوو نو داخبره سپينه شي چې د اټکی د مفهوم له رويه د پر له پسې بدلون سره مخامخ شوی دی. د نړۍ هره ټولنه او وګړي د دې علمي و ادبي منابعو ته بېلابېل مفاهيم لري. په کولمبيا کښې " University of Missiouri" د فولکلور او شفاهي روايت او کلتوري مطالعاتو د څانګې له خوا پر خپل ويب پاڼه يو په زړه پورې پاڼه شريکه کړې ده"(3)

چې دکال ۱۸۸۴ء څخه بياتر ۲۰۰۷ پورې د فوکلور په مفاهيمو کښې د بدلون څرګندونه کوي. له دې لنډ ي او په زړه پورې خپروني څخه يوه دا خبره مختنه راځي چې فولکلور د نړۍ په علمي، تعليمي، تهذيبي، تاريخي او کلتوري روايت کښې خپل ځان د يوه مهمه او ارزښتناکه ستنې (Pillar) په حيث ځای کړی دی.که په کال ۱۸۸۴ ء کی Henery A Wehalthy و فولکلور ته يوازې ديوې علاقې د خلګو نا ليکلي زده کړې ته فولکلور ويلي دي نو وبل پلو ته په کال ۲۰۰۷ کې American Folklore Society له خوا چې کوم تعريف شوی دی هغه د يوې ټولنې، کلتور او تهذيب د بېلا بيلو علومو،هنرونو، ادبياتو، ټولنيزو اومعاشي اړخونو،ټولنيزۀ ارواح، بشر پوهنې، ارواح پوهنې (Psychology)، او دګنړشمېر فنونوريښې په فولکلورکي د لټولو هڅې ته جواز ورکوي.

خلاصه يې پر دا چې د فولکلور په حقله په ټولو تعريفونو کښې ګډه خبره داده چې فولکلور د اولسي ژوند د ناليکلو او زباني کيسو نظمونو شعرونو، سندرو، رواياتو، متلونو هينداره ده چې د اولسي ژوند او دوګړو رسمونه، دودنه، ارزښتونه، کرکې، کږنې، انګيرنې، لنډه دا چې ټول اړخونه په کښې ليدل کيږي.

**د نړۍ اوسنی علمي بهيراو ورکېدنونکی شفاهي روايت:**

د منځنې يورپ څخه چې د روښن خيالی نهضت (غورځنګ) چې په اوولسمه او اتلسمه صدی کښې راپورته شوي وو، هغه په يوه دوامداراو

ارتقـايي توګـه د "جديـديت" بڼـه خپلـه کـړه. د روښـن خيـالي فکـري مـانۍ چـونکې پـر عقـل او اسـتدلال تکيـه کوي، ځکـه ټـول هغـه علوم، فلسـفه، روايـات، اسـاطير، پـوهي، قدرونـه اوتـاريخي کردارونـه چـې دخپـل وخـت د انسـاني کلتـور، تهـذيب، خيال او وجدان پيـداوار وو، عبـث، ناکـاره او غيـر حقيققي وګڼل شو.

لـه هـم دغـه ځايـه د سائنسـي علـم او روايـت مـنځ تـر د بيلتانـه او رقابـت نغـاره وګړنجـول شـوه. ليـو تـار د "جديـديت پـس" د عصـر کـره کتـونکی او فلسـوف دی چـې سائنسـي علـم يـوه خواتـه کـوي او بـاقي مانـده علمـي پـانګې تـه د "لـويې شـفاهي کيسـې" يـا مهـا بيانيـه (**Meta.Narrative**) نـوم ورکوي. خـو د جديديتـه پـس چـې کـوم علمـي بحـث پيـل شـوی دی هغـه لـومړی پـه دې انـد دی چـې، "د روښـن خيـالۍ پـروژه د نـامرادي سـره مخـامخ شوې ده" (**4**)

دلتـه زمـونږ د موضـوع سـره تړلـې خبـره دا ده چـې د عقلـي او ساينسـي اصـولونو او دلايلـو پـر بنسـټ چـې د علـم، پـوهي او قـدرونو يـوه لويـه پانګـه عبـث او ناکـاره ګڼـل شـوې وه او د جديـديت پـه زورداره سـيند کښـې ورکـه شـوې وه هغـه د پـس جديـديت پـه علمـي بهيـر کښـې يـوار بيـا راپورتـه شـوې ده. پـر دې لاهـم برسـېره، د پـس جديـديت علمـا پـر دې خبـره ټينګـار کوي چـې د ساينسـي علومـو بشـپړتيا د بيانيـه، معيـاري يـا کيسـه ايـز علومـو پرتـه هـيڅ يـو امکـان نـۀ لـري. ولـې چـې ساينسـي علـوم د ښـکلا، حـق، خېـر او ښـېګړې هـيڅ ډول ادراک نشـي کـولای، ځکـه خـو د روښـن خيـالي پـه دور کښـې چـې دانسانسـانو د هوسـايي، عظمـت او فکـري او اخلاقـي الـوت کومې هيلي او خوبونه ليدل شوي وو، هغه خوشي تشي پاتې شو.

### د نړۍ په علمي بهيرکښې د شفاهي روايت او فولکلور ځای:

د نـړۍ پـه روان علمـي بهيـر کښـې ورځ تـر ابلـه بـدلون راځـي. کـه چـرې د طبعـي علومـو سـائنس يـا ټـولنيز علومـو ارتقـائي يـون تـه وکتـل شـي نـو داخبـره روښـانه کيـږي چـې پرلـه پسـې، پلټنـې، ګرويږنـې، تجربـاتو او غـور و فکـر پـه نتيجـه کښـې علـوم دعموميـت څخـه دتخصـيص (**Specialty**)

و خواته لاره کړې ده. د بعضي علومو ترمنځ نيغ په نيغه اړيکي وي او بعضي بيا جز وي غوندي خپلوي سره لري"(5).

فولکلور په حقله دا ويل کېږي چې دا په يو وخت کښې دادبياتو (Humanities) سره او بل پلوته د ټولنپوهنې او ټولنيز سائنس (Social Sciences) سره ټينګې اړيکې لري. په ارتقائي توګه بيا فولکلور د ادبياتو او بشر پوهنې وېوړيو ته راکوزېږي چرې چې په طبعي او معنوي لحاظ سره خپل فطري ځاى او ارزښت مومي. دبشر پوهنې دعلم په څلور، څانګوکښې د فولکلور رېښه نېغ په نېغه د کلتوري بشرپوهنې (Cultural Anthropology) سره مښلي.

خو زمونږ په دې بحث کښې لومړى د فولکلور پر علمي، تحقيقي. تهذيبي او علمي ارزښت بايد خبره وکړل شي. د هغه پس به د فوکلور ټولونې او څېړلي پر علمي او تحقيقي اصولونو او دجنوبي پښتونخوا په فولکلور دکړل شويو ټولګو لنډه جائزۀ واخيستل شي.

د فوکلور دعلمي، سياسي، ټولنيز او تحقيقي ارزښت په حقله د شلمي او يو ويشتمې صدى، د ژبپوهانو، ټولنپوهانو، بشر پوهانو او په تېره بياد تاريخ پوهانو او محقيقنو تر منځ اوږده بحثونو وجود لري. انساني تاريخ ادب، فلسفه، مذهب، او عمومي پوهنې پېل په شفاهي او اولسي توګه شوى دى. او بيا په ارتقائي لحاظ يې مخصوصه فورمونه موندلي دى. ځکه نو د انساني ټولنو د اجتماعي شعور وړانګې چې څۀ ډول داولسي ادب په هنداره کښې کتل کېداى شي بل هېڅ يو لرغوني منبع (source) د دې سيالي نۀ شي کولى.

د ياد وړ خبر ده چې فولکلور د وګړو، روزمره ژوند دوى افکارو، افتخاراتو، وېرو، توهماتو، خوند، رنګ او ښکلا ښکارندوى وي، چې په شفاهي توګه له يو ه نسل څخه بل نسل ته په ميراث کښې پاتيږي. ځکه نو چې په کومه ټولنه کښې کلتوري عمل په خپل ټاکل شوي رفتار يو ن کوي هلته دغه ارتقائي عمل ګړندى وي او چرې چې په روايتي ژوند کښې د نورو کلتور او د کلتورونو يا نويو معاشي غوښتنو او تعليمي تقاضو په اړوند د زده کړې نوي لارې چارې وضع کړل شي هلته وګړي او ټولنه د شفاهي روايت ( Oral

Tradition) او اولسي تاريخي پوهنې (Folk Wisdom) د شعور، ذوق او قدرونو څخه بې برخي پاتيدل فطري امر شي. د تاريخي عمل دغه کړياني چې چرې وشليږي هلته د لږ يا ډېرې مودې دپاره په ټولنه کښې يو کلتوري او تهذيبي تعطل را برسېره شي چې په ټولنه کښې د وګړو د خپل ځان، چاپيريال او دنيا څخه د بېزاري، پرديتوب (بېګانګيت) او خاموشي پېلامه وګرځي. د نامتو سياسي تعليم پوه پاولو فرېرې په دې حقله دا نظر لري چې له ځانه نابلده او ورک خلګ په تاريخي عمل کښې د بدلون يو پر شا تللې تصور لري څکه نو داسې وګړي يا ټولنه په تېر وخت کښې اوسېدل غواړي او ټوله پر مختګ پر شا تمبول د دې دپاره يوستر ايډيل او مرام ښکاري.

په اتلسمه ميلادي صدي کښې په يورپ کښې هم دغه بدلون دخلګو څخه د فوکلور د تخليق او استعمال لوري هير کړل خو هلته بيا رياست (دولت) او علمي و ادبي ټولنې مخ ته راغلې او د زاړه ژوند دود هغه شفاهي تخليقات يې راغونډ کړل چې د صنعتي انقلاب څخه لومړی، او بعد کښې ژوند څرګندونه په ډېره ښه توګه کوي. دلته دتيرو ۱۵۰ کلونو راهيسې اولس پوه او فولکلور ته زيات پام اوښتی دی. اودا مهال هم د پر مختللو هېودونو سترې علمي ټولنو او اکاډميانو د فولکلور ټولوني او څېړنې وعمل ته ملا تړلې ده. څکه و مونږ ته دنولسمي صدۍ پورې ليکوالان د فولکلور دعلمي فني، تکنيکي، او کلتوري ارزښت په حقله ډېرې هيلې او ارمانونه څرګند کړي دي.

اولسي صنفونه که د نثر وي که د نظم، که رزميه کا بزميه خو د سادګي او ثقافتي تعلق او شناخت په سوب د ټولنې د وګړو تر منځ د يوه مضبوط او خودکار ټولنيز نظام د پرانستلو په عمل کښې مرکزي کردار ادا کوي.

رابندرنات ټېګور په حقله هم مشهوره وه چې لومړی ادبي تاثر (inspiration) يې د اولسي ادب څخه اخيستی وو، هغه په خپل يوه يادانښت کښې په دې حقله داسې ليکي: (ژباړه محقق) "کومي کيسې او نظمونه چې ما په کوشني والي اورېدلي وو هغوئ زما په اندرون کښې د رنګ او بوی يو پرستان اباد کړ. زه په دې وياړم چې زما د

شــاعرانه وجــدان روزنــه د بنګــالي کليــو او کوڅــو او مــذهبي تهوارونــو او کلتوري مېلو کښې لاوختي پېل شوی وو"(6)

د علمــي او تهــذيبي اړخونــو ســره ســره د نولســمې او شــلمې صــدي کښــې قاميــت (مليــت) خوښــونکي اوښــتونونه (انقلابونــه) او ټــولنيز پاڅونونــه چــې پــه يــورپ کښــې واقــع شــو هــم تــر شــا د فولکلورســره څــۀ نــه څــۀ اړيکــې درلــودلې دي. قامونــه د نــړۍ پــه ارت تــاريخي بهيرکښــې خپلــې ځــانګړنې لټــوي، چــې د نړيوالــو ومــخ تــه خپلــې داســې ځانګړتيــاوې کښــېږدي چــې د دی تهــذيبي، حربــي (جنګــي)، علمــي او کلتــوري لوړتيــا او تسلط ديوۀ قدرتي سکيم برخه ثابته کړي.

د نولســمي صــدۍ پــه اخــري دوو لســيزو کښــې جرمنــي د يــوۀ زبــر ځــواک پــه بڼــه داســې راپورتــه شــو لکــه نــابېره چــې يــو لــوی دېــب لــه خوبــه را ويښ شــي. پــه نــازي جرمنــي کښــې چــې د نســل پرســتی پــه خښــته د نېشــنلزم کــوم دېــوال وهل شوی وو د هغه خټه هم د فولکلور په اوبو خيشته شوې وه.

په کال ۱۹۱۷ کښې په روس کښې د بالشويک* اوښتون تاريخي پېښه منځ ته راغله. دلتـه هم دا خبره راپورتـه شوه چې دنوي عصر او نړۍ ايزټولنـه کښې وروس ته څۀ ډول شناخت پکار دی؟. د اشتمالي دولت لـه لـوري چې کومـه نـوې ټولنه په پـام کښـې نيـول شـوې وه دهغـه دپـاره و يـو نـوي کلتورتـه اړتيـا ودرلـودل شوه.د روسي فـولکلورتـاريخ پوهـ ريچډ ګـاف، پـه خپلـه مقالـه ( The Role of Tradition of folklore in Soviet Propaganda) کښې په دې هلکه داسې کښـلي دي. ( ژبـاړه محقـق ) "څـۀ وخـت چـې د ۱۹۱۷ء د بالشـويک اوښـتون پـه نتيجه کښې په روس کښې نـوي واکمنـان د قـدرت پـر څـوکۍ کښېناسـتل داسـې ښکارېده چې اولسي ادب چې دقـامونو سـابقه او د تـاريخي ميـراث توښـه بـه پـه بشپړه توګه له منځه يو سي، خو داسې ونۀ شول. څۀ وخت چې نـوي واکـدارانو رياست واګې ترلاسه کړې هغوئ په ټولنه کښې دنـوي کلتـور د تخليق دپـاره د

* په کال ۱۹۱۷ کښې په روس کښې ذيارکښانو (مزدورانو او بزګرانو) له لوري چې د وخت د امپراتور "زار" په ضد چې کومه لاس برې خونړي مبارزۀ وکړه او اوښتون يې وکړ وهغه ته بالشويک اوښتون ويل کيږي. بالشويک د روسي ژبې توری دی چې معنا يې عوام يا د وګړو اکثريت دی، په بله معنا بالشويک انقلاب (اوښتون) د اولس د يووالي پايله ګڼل کيږي.

فوکلور څخه کارواخست او صنعتي پرمختګ او سائنسي ایجادانو ته هم د روسي ټولنې و اجتماعي شفاهي او لرغوني تاریخ او روایت سره متفاوت (مقابل) ونه ګڼل شو"(7)

خو بیا دلته دخالصتاً سائنسي علومو په خمار کښې داسې مکتبه فکر هم راپورته شو چې وکوشنیانو ته دجناتو، پیریانو او فوق الفطرت مخلوقاتو (چې دسانس له رویه هېڅ وجود نهٔ لري) نېغ په نېغ غندنه پېل کړه.د سویت روس په متحده ایالتو نو کښې په دې حقله تاودهٔ بحثونه او مکالمه پېل شوه. د روس نامتو کیسه لیکونکی میکسم ګورکي په دې هلکه د فولکلور په اهمیت ډېر زور واچاوهٔ. په کال ۱۹۳۴ء کښې چې څهٔ وخت د ټولو ایالتونو کانګره وه، میکسم ګورکي په خپله درنه وینا کښې د فوکلوري اصنافو د تخلیقي جواهرو په حقله څهٔ داسې رائے څرګنده کړه. ریچډ ګاف په خپله مقاله کښې مخ ته لیکي( ژباړه محقق )،"لومړی هغهٔ پر دې زور واچاوهٔ چې وګړي او انساني ټولنه چونکې د یوهٔ خاص تاریخي شعور سره تړلې وي او هغه دژوند حقیقي بڼې او واقعات د خپل شفاهي روایت په چوکاټ کښېویني نو ځکه وګړي د خپل کلتوراو تاریخ څخه بېلول داسې دې لکه چې د غوښې څخه چې نوک بېل شي. له دې پرته هغه مخ ته څرګنده کړه چې د فولکلور منابع باید د بدلون او اوښتون دپاره دامکاناتو په هېڅ وپېژندل شي. په دې کښې چې کوم دوګړيو د یقین سازي په مېدان کښې کوم تخلیقي قوت شتون لري باید په کار واچول شي.بل دا چې دوګړو اخلاقي او انساني او صاف په ارتقائي توګه وده مومي، د دوی ځانګړي جمالیاتي حسیات، ذوق او ډښکلا خوښونې او ستاینې پیمانې د خپل شفاهي او تاریخي عمل سره مبنتي وي"(8) بل پلو ته مونږ دا هم کتلای شو چې په متحده سویت ایالتو کښې او بیا په نازي جرمني هټلر فولکلوري صنفونه د وګړو درا پارولو دپاره د پلمې په توګه استعمال کړل. د فوکلور دا ډول سیاسي استعمال مونږ ته ځای پر ځای په باقاعده ریاستي توګه هم په سترګه راځي او په ګوریلا (چارکي) جنګ کښې هم چې دوګړو تاریخي شعور فکري بنسټونه او دځان په حقله انځور (self image) هم د شفاهي روایت او فولکلوري زرائعو باندې اډانه لري.د پښتنو د استقلال زیاتره جنګونه، سرې او تودې مبارځې اوس همّ شفاهي روایت

کښې خوندي دی.له دې پرته په دې کښې مونږ د روايتي قبايلي ټولنې هر اړخ لـه ډېره نژدې ليدلی شو.

د يـورپي ښـکېلاک ګـري پـه سـوب چـې د اسـيا، افريقـه، لاطينـي امريکـه او نـورو ولاتونـو کـومې انسـاني ټـولنې مسـتعمره شـوې وې، هغـوئ هـم د خپـل ورک شـوي شـناخت دبيـا مونـدلو دپـاره و خپـل ناليکـل شـوي تاريخ، روايت، اساطير و ادبياتو ته مخه کړې ده.

دشفاهي روايت د مستعمره شويو قامونو پر ذهني او نفسياتي حالاتو ډېره ژوره اغيزۀ درلودلې ده.د بنګالي ژبي نامتو ليکوال رابندر نات ټېګور او د هغـه د عصر نورو ازادي خوښونکيو منورينو د يورپي استعمار په ضد چې کومه فکري او علمي مبارزه پېل کړه د هغۀ مراد دا وو چې د سامراجيت علمي او تهذيبي معيارونه بايد تـر څېړنـې لاندې راوړل شي اوپـه دې حقلـه چې بـه روايت او کلتـور کښـې چې کـوم ګنجايشونه دي هغه بايد وګړو ته ور ياد کړل شي. د کمال خبره هم دا ده چې دهنـد د خپلواکۍ هر لـوی غورځنګ لـه بنګالـه راپورتـه شـوی دی چې ريښـې يې بيا هـم پـه شفاهي روايت کښې دي. ډاکټر اشرف صديقي په خپله مقاله (Rabindarnath Tagore & folklore) کښې په دې هلکـه ژوره څېړ نـه کړېده او پـه صوبه بنګـال کښـې مغربـي استعمار يت پـه ضد کـوم لرغـوني تحريکونه لکـه (1872) Hindu Mela نشنل کانګرس (1885ء) او د غسې نورې ډلې او ټولنې جوړې شوې. د دغو سياسـي او ټـولنيز غـورځنګونـو اپـروچ او علمـي حـوالې اسـتعارې، تلميحـات روايـت او فولکلور څخه اخيستل شوي وو. او هم دغـه صوبې څخـه چې پـه اولـس کښـې يې دخپل کلتور او روايت سره دشفاهي روايت په سوب ټينګه اړيکه وه د هند د ازادۍ او خپلواکۍ په غورځنګ کښې بنيادي رول لوبولی دی.

د فولکلـور پـر علمـي او تحقيقـي افاديـت ډېـر څـۀ ليکـل کېـدای شـي. ولـې چـې پـه عملـي (سياسـي) ټـولنيز، او ادبـي سـويه وګـړو د اولسـي ادب څخـه پـوره پـوره کار اخيسـتی دی. بـل داچـې د نـړۍ ډېـر پـرمخ تللـي هيوادونـو او علمـي ټولنيـود خـورا زيـاتې صـنعتي ترقـۍ بـاوجود هـم د اولسـي ادب ځـای دنـورو علومـو سـره سـم ايښـی دی. لکـه څـۀ ډول چې اولنيـانو ويلـي دي چـې کلـی د ښـار پـلار او ښـار د کلـي د زوئ دی، هـم دغـه ډول فولکلـور د لـوئ وخـت د ليکـل شـويو ادبـي فورمونـو، صـنعتونو او صـنفونو څخـه جـلا

نهٔ شي ګڼل کېدی. د فوکلوري مـوادو پـه مرسـته دا امکـان لـري چـې دیـوې سـیمې او وګـړو کلتـوري او تهـذیبي تـاریخ رابرسـېره کـړل شـي. پـه ټولنـه کښـې د وګـړو تـرمنځ طبقـاتي رویـې. صـنفي تعـاملات، سیاسـي او فکـري ډهـانچې، د زدکـړې او تعلـیم عمـل، د ښـکلا، مینـې، کرکـې، کړنـې معیارونـه او د وګـړ ځـان او د جهـان پـه بـاره کښـې خیـالاتو پـوره پـوره څهـره هم د دغه فولکلورپه هینداره کښې کتل کېدای شي.

## د پښتو فولکلور په حقله یو نظر:

کـه څـهٔ هـم پـه لـر و بـر پښـتون وطـن کښـې د لرغونـو تهـذیبونو لکـه اریـایي، بـودایي او زرتسښـتي او نـورو تهذیبونونښـي نښـانې موجـودې دي خـو د نـړۍ د تهـذیبي تـاریخ څخـه څـهٔ داسـې ثقـه دلایـل مـونږ تـه پـه لاس نـهٔ راځي چې دا خبره سـپینه کـړي چـې پښـتانهٔ د هـم دغـو تهـذیبونو خاوندان یـا تخلیـق کـونکي دي. پـه دې حقلـه ګټـورې پلټنـې، انګېرنـې او اټکلونـه وجـود لـري خـو بیـا هـم زمـونږ د اولسـي او ټـولنیز کلتـور او تهـذیب نښـې نښـانې مـونږ تـه یـوازې پـه خپلـه ژبـه کښـې راپـاتې شـوې دي.اوس کـه د ژبـې او ادب تـاریخ راواخیسـتل شـي نـو مـونږ تـه پرتـه د یـو څـو مینـدنو هـېڅ پـه لاس نـهٔ دي راغلـي. ډاکټـر راج ولـي شـاه ختـک د خپلـې پـي ایـچ ډي پـه چـاپي مقالـه کښې ددې صورتحال غبرګون داسې کړی دی.

"داسـلام نـه وړانـدې د پښـتو د پښـتنو د تهـذیب ریکـارډ پـه خـړو لـړو کښـې پـرو ت دی...ولـې ترڅـو پـورې چـې د دې تهـذیب د ژبـې او ادب خبـره ده نو هغـه داسـلام نـه وړانـدې دژونـد پـه شـپو او ورځـو کښـې دشـپې پـه تیـارهٔ کښـې پټـه ده. ددغـې شـپې پـه چـاودون کښـې چـې چـې د تحقیـق نظرتـه کـوم اثـار تـت تـت پـه نظرراځـي هغـه د لویکـانو د کـورنی د پښـتنو اثـار دي. دا اثـار چـونکې د تـاریخ پـه تېـره غـونې کښـې دي نـو ځکـه کلـه پـرې د پښـتو ژبـې دادب ګمان راځي او کله نا"(9).

د پټـې خزانـې لـه رویـه د پښـتو ژبـې لـومړی انفـرادي شـاعر امیـر کـروړ یادشـوی دی چـې زمانـه یـې ۱۳۹هجـري قمـري ښـودل شـوې ده. خـو د انسـاني ټولنیـود تـاریخ څخـه دا حقیقـت څرګنـدېږي چـې انسـان لـومړی ژبـه

ویـل او کـارول زده کـړې ده او ډېـر وروسـته انسـاني تهـذیب د لیکلـو وخواتـه راسـتون شـوی دی. ډاکټـر راج ولـي شـاه ختـک هـم پـه دې حقلـه لیکـي، "لکـه څنګـه چـې چـه د بنیـادم فطـري تقاضـا ده خپـل اظهارپـه مختلفـو طریقـو کـوي. پـه دې طریقـو کښـي د ټولـو نـه مـؤثره ذریعـه د ژبـې ده، د هـرې ژبـې دادب تـاریخ شـروع د اولسـي ادب نـه کـوي. پښـتو هـم چـې ادبـي تحریـک شـروع کـړی دی نـو شـروع بـه یـې خامخـا د فولکلـوري اصـنافو پـه ذریعـه کـړې وي"(10)

د هـر اولـس فولکلـور" دلیکلـي" ادب پـه انـډول زیـات پخـوانی دی، عـن تـر دا چـې د لرغـوني انسـان بڼـه مـونږ د هغـه وخـت پـه شـفاهي ادب او روایـاتو کښـې راخیسـتی شـو. د روس نـامتو لیکـوال میکسـم ګـورکي فکـر لـري چـې د لفظـي هنـر ریښـې پـه فولکلـور کښـې دي او پیـل یـې هـم لـه دې څخـه شـوی دی. خـو د فنـي څېړنـو لـه مخـې لیکلـي ادب نـه ډېـر کشـر اونـزدې زمـونږ همزولی دی"(11)

لنـډه دا چـې پـه شـفاهي روایـت او فولکلـور پـه لمـن کښـې چـې کـوم لرغـونی تـاریخ، علـم، فـن، پوهـه او ټولنیزتجربـات او د کلتـور بشـپړه بڼـه پټه ده، هغه په علمي او تحقیقي اصولونو تلل او شنل پکار دی.

کـه څـۀ هـم د تـاریخ پـه تېـره غـوني کښـې دکلتـور او تهـذیب ډېـرې نخښـې ورکـې دي، خـو بیـا هـم د فولکلـور راغونـډونې او ټولـونې وکارتـه پـه لـر او بـر پښـتون وطـن کښـې ډېـرو ادبـي ټولنـو، اکاډمیـانو، ادارو او افـرادو مـخ ورګرځـولی دی او بـېلا بېـل اولسـي صـنفونه پـه لیکـل شـوي بڼـه خونـدي کـړي دي.البتـه د ریاسـت لـه اړخـه پـه دې حقلـه د زړۀ لـه اخلاصـه مرسـتې نـۀ دي شـوې. د بهرنـي او کـورني جنګونـو څخـه وختـي پـه افغانسـتان کښـې د علومـو اکېـډمۍ لـه خـوا چـې کـومې هڅـې شـوي وې د هغـه را وروسـته هغـه ډول سـنجیده هلـې ځلـې پـه نظـر نـۀ راځـي. پښـتو اکېـډمۍ پېښـور او پښـتو اکېـډمۍ کـوټې د ځـایي فولکلـوري صـنفونه تـر ډېره حده راغونډ کړي دي خو ډېرې نیمګړتیاوې په کښې لیدل کیږي.

خـو اوس لاهـم ډېـر داسـې صـنفونه شـته چـې د شـفاهي روایـت د ډېـرو کمـو راویـانو یـاد دي او مـخ پـه ورکېـدو دي. د مثـال پـه توګـه د کـوټې پـه شـا

وخوا د کاکړو په سیمه کښې "بلندۍ" یو داسې في البدیع مزاحیه صنف وو چې ورابانړو (دزوم خپلوان) او کوربنو (د ناوي کلیوال) به په منظوم انداز کښې یو د بل په جواب کښې سره کولې. په دې حقله داسې شفاهي روایتونه هم شته چې د نارینوو او ښځینوو تر منځ به جوابي "بلندۍ" سره ویل کېدې. خو له مونږ سره په دې حقله هېڅ ډول لیکلي مواد نشته. هم دغه ډول په بوري (لورالايي)، ږوب، قلعه سیف الله کښې د پټو غاړو روایتونه او مشاهدې شتون درلودلی دی. چې د هغه ټولنې د موسیقي د هنر او شاعرانه اوصافو ژور دلیلونه وړاندې کوي. خو همدغه صنفونه ورځ تر ابله ورکېږي او د ټولنیز شفاهي روایت څخه ورو ورو وځي. له دې پرته خصوصاً پښتنو کوچي قبیلې اوس هم داسې ځانګړي صنفونه او شفاهي تاریخ، اساطیر، متلونه، نکلونه، کرکې، کږنې، علمونه او دودونه او دستورونه لري چې ورڅخه د لرغوني پښتني ټولنې ژوند دود او د فن و هنر د فلسفي نخښې را بر څېره کېدای شي. د ټیکنالوژي او نوي تعلیمي نظام اوږدې سایې چې پر کومو سیمو نهٔ دي پر بوتې هلته اوس هم وګړي او ټولنې په زیاته لرغوني توګه ژوند کوي او د کلتوري بشر پوهنې (Anthropology Cultural) او د ژبني ټولنیز (Socio.Linguistics) تحقیقي اصولونو په ترڅ کښې د پښتني کلتور او تهذیب نوي اړخونه رابرسېره کېدای شي.

## مخ په وړاندې:

د شفاهي روایت او فولکلوري اصنافو څخه څهٔ ډول علمي شتمني تر لاسه کېدای شي، که څهٔ هم دا یو عمومي او د ډېرو پوهانو و نظر ته اړتیا لري خو په د ې تر خ کښې یو څو داسې اړخونه زما په نظر کښې دي چې د دې تحقیقي مقالې د پایلې په توګه یې راوړل غواړم.

د فولکلور ټولونې او راغونډونې پرته، څه داسې نورې خبرې هم شته چې تر اوسه پورې لا په پام کښې نهٔ دي نېول شوې. که څهٔ هم زمونږ د ادبي او تعلیمي ادارو څخه دا هیله کېږي چې هغه دې د علم او تحقیق د نوو روایاتو په رڼا کښې داسې سوالونه راپورته کړي چې د ټولنې،

کلتـور، روایـت او تهـذیب د ځـانګړي اړخونـه څخـه پـرده پورتـه کـړي، خـو ښکاري چې اوس لانور انتظار هم په کار دی.

د شـفاهي روایـت د فعالیـت او د فوکلـور د جوړښـت او تخلیـق ترشـا یـو ټـولنېز نظـام پـه دوام داره توګـه کـار کـوي. لـومړی دغـه نظـام څېـړل پکـار دی. لکـه څـۀ ډول چـې شـفاهي روایـت او د فولکلورپـه یـوۀ کلتـور کښـې واقـع کېـږي ځکـه د کلتـور عکس نېـغ پـه نېغـه پـه هـم دغـه اصنافوکښـې پـه اسـاني سـره لېـدل کېـدای شـي. نـو پـه کلتـور کښـې د تخلیـق، ښـېګڼې او ازادی(د نـر ګـاڼو او میرمنـو پـه حقلـه) څـۀ ډول ګنجایشـونه شـتون لـري، او دوګړیـو تـر مـنځ څـۀ ډول معاشـي اړیکـې، رشـتې، د بیلـو نسلونو،جنسـونو، ژبـو، قـامونو، مـذهبونو او مسـلکونو پـه حقلـه څـۀ ډول عکـس العمـل څرګنـدېږي، او د وګـړو پـه دې حقلـه څـۀ ډول رویـې او سـوچونه دي دا ټـول د هـم دغـه اصـنافو پـه وسیله مختـه راتـلای شـي. نـو لـومړی خبره خـو دا ده چـې د فولکلورپه وسیله د یوۀ کلتور زیاتره بر څېره جلبول کېدای شي.

د ټولنې د ژوند او فن فلسفه په حقله هم فولکلوري اصناف او شفاهي روایات د یوې مهمې حوالې په صورت کښې راخیستل کېدای شي. لکه څرنګه چې زیاتره ختیځ پوهان او د بشر پوهنې علماپه دې اند دي چې هر پښتون فرد دکلتور لـه رویـه د ځان د اختیار دی او د بل هیچا باداري نۀ قبلوي، اوس په دې ترڅ کښې لـه مونږ سره څۀ ډول ثقه ادبي او اولسي وسیلې شته چې ددغـه نظرکوټ راوباسي یا سند ورتـه ورکړي. که چرې پښتني ټولنه د ختیځ پوهانو په وینا (**Egalitarian**) ده نو د تخلیـق اود ازادي اظهـار حـق و ښـځینو او د ټـولنې کـم ارزښـته طبقـې (**Marginalized Social Classes**) تـه هم ورکـول شوی دی؟. دا ډول سوالونه نن مهال د نوي نړیوال کلي په څنډو او کوڅو کښې عـام دي. ځکه نو دلتـه یوار بیا مونږ ته دا خبره یادول پکاردی چې د روایت او فولکلور و لور ته ولاړ شو او د خپلو دغو ستونځمن سوالونه حقیقت په کښې ووینو.

فولکلـوراو شـفاهي روایـت د نـوي وخـت د ټېکنـالوژي تـر اثـر لانـدې څـۀ ډول خپـل اصـلیت، فـورم (جوړښـت) اومـرام ژونـدی سـاتلی دی.ایـا د نـوي وخـت پـه دې ګڼـه ګوڼـه کښـې د فولکلـوري اصـنافو د تخلیـق نـوي فورمونـه څـۀ ډول رامنځتـه شـوي دي. د مثـال پـه توګـه نـن د بانـډار روایـت لـه سـره د

یوۀ نوي رجحان سره مخاخ دي. د طالبانو رزمیه بانداري سندري چې د (Taliban's Chants) په نامه چاپ شوي دي عین دا نتیجه ترې اخیستل شوې ده چې پښتون هم هغسې جنګیالئ او مرګ ته تیار قوم دی لکه څۀ ډول چې د سکندر مقدونوي یا الفنستن د ورتګ په وخت کښې چې وو. له دې پرته نن چې کومې غاړې، ټپې یا د اولسي سندرو په نامه سندر غاړي وائي هغه یوازې دیوۀ کس تخلیقي هڅه وي، او هغه ته اولسي شاعري ویل یا هغه داولسي شاعري په طور قبولول زما په نزد لویه تېروتنه ده. هم دغه تېروتنې د فولکلور د راغونډونکیو له خوا هم په دوامداره توګه شوي دي.

د نوي پېښه ورانه تعلیم په سوب، ځایي تاریخ، ژبه، دود، دستور، جامې، شاعري، لوبي، فنون لنډه دا چې هر څۀ عبث، ناکاره او دبې سواده خلګو د تخلیقاتو په څېر ښکاره کړل شوي دي. په دې ترځ کښې د فولکلور او شفاهي روایت ځای ورځ تر ابله کمېږي. د پښتو څانګې لوستونکی ذاکر زیارتوال چې خپله د ایم اې مقاله یې د زیارت د سیمې پر ښځینه صنف انګیو کښلې ده دا اصل په ګوته کوي چې هغه انجونه چې د سکول یا کالج ته تللې وي انګۍ، غاړې،اتڼ او نور اولسي رسمونه عبث ګڼې. له دې پلوه باید وکتل شي چې د کلتوري عمل څخه د بې برخې کېدو او د شفاهي روایت تشیا (Space) کوم شي ډکه کړې ده؟

لومړی خو دا چې تراوسه پورې زیاتره فولکلوري اثار یوازې د فوکلور راغونډولي او ټولوني باندې راچورلي. د جنوبي پښتونخوا راغونډ کړل شوي فولکلور څېړنه کښې و کړل شي نو دا خبره به څرګنده شي چې د دغه قدرو منابعو څخه د پښتني کلتور او ټولنې، تاریخ د پښتون ولي د روایت او د لرغوني زماني د تهذبي اثرات هېڅ ډول هڅې نۀ دي مخ ته راغلي. لومړی خو دا چې زیاتره فولکلور ستان هم پخپله د هغه چاپیریال برخه نۀ دي پاتې شوي چرې چې د فوکلوري ادب منظوم یا منثور اصناف دپرله پسې تخلیقي عمل په نتیجه کښې جوړېږي. د یوۀ محقق دپاره د تخلیق دعمل تر شا د شتون درلودونکي عواملو باندې ځان خبرول په فولکلور د راغو نډولو څخه لوړ مقام لري. لکه څۀ ډول چې

وئیل کېږي چې مونږ د کلي والو سیمو سره علاقه درلودونکي وګړي مشاهده کوو. چې زیاتره فولکلوري ادب ښځینو تخلیق کړی دی. ټولنه په یوۀ وخت کښې وښځي ته د مینې، بیلتون، ښکلا، ازادۍ، خپلواکۍ، برابرۍ د احساساتو او جذباتو د اظهار حق ورکوي خو د دغو ټولو عواملو توپیر دی د هغه څېړنه ته هم د بشر پوهنې، او ټولنپوهنې په چوکاټ کښې کېدای شي. خوله مونږ سره داسې کم مثالونه دي. چې د فوکلور په مرسته یې د دې عواملو وجه او نتیجه (Cause & affect) څرګند کړی وای.

د فولکلورراغونډونې په مرحله کښې دا خبره په پام کښې نیول پکار ده چې د اولسي یا شفاهي اصنافو سند له چا څخه اخیستل پکار دی. چونکې په روایتي ټولنه کښې د شفاهي منظوم او منثور اصنافو کښې تخلیق کول عام او عادي خبره ګڼل کیږي، ځکه نو داسې ډېرتخلیقات کېدای شي چې د افرادو د ذهن اختراع خو به وي خو په اولسي توګه ورته سند نۀ وي حاصل. په نن ورځ ډېر داسې سندر غاړي دي چې د یوۀ شاعر جوړې کړل شوې اولسي غاړې، ټپې، چاربیتې او نور اصناف د هم هغه صنف په انداز او اوزانو کښې وائي یا یو څۀ فولکلورستهان د خاص ډول موضوعاتو په حقله د اولس د عکس العمل څرګندولو د پاره له ځانه غاړې، ټپې او متلونه جوړوي او چاپوي.

د فولکلوري اصنافو راغونډونې دپاره باید چې محقق د کلتور او شفاهي روایت او ژبې سره بشپړه ولدتیا و لري، د تحقیق د طرزونو په ترڅ کښې و دې ته (Ethnographic) اپروچ ویل کېږي.ولې چې د فوکلور څېړنې دپاره لازمه ده چې څېړونکې دهغه کلتور په هر اړخ خبر وي. که چرې هغه د دې ټولنیز نظام برخه پاتې شوې وي او په کلتوري عمل کښې یې دیوۀ فاعل (Subject) په حیث خپل رول لوبولی وي نو هغه ته د هر صنف د یوې کړۍ په حقله بشپړه معلومات وي په دې حقله (Cultural Relativism) یعنې کلتوري موافقت او کلتوري پوهنه لومړی شرط هم دی او د فولکوري تحقیق په اخلاقیاتو کښې هم شمارل کېږي.

د فولکلور هغه برخې چې اولسي بڼه يې نۀ وي، خلک يې معيوب کړي. او په روزمره کلتوري عمل کښې وګړي نۀ کاروي بايد چې ډېر احتياط سره وکتل شي. په اوسنيو کښې صادق ژړک د جنوبي پښتونخوا پر فولکلوري صنف "کاکړۍ غاړو" ډېر د قدر وړ کار کړی دی. د دې کارد ښو اړخونو سره سره يو څو داسې نيمګرتياوي هم په کښې راخيستل شوې دي چې ورځخه مؤلف يا محقق ځان ژغورلی شو. په دې اثر کښې چې کومي بربنډې او لوڅې غاړې راخيستل شوې دي، په هيڅ ګن د اولسي ادب د راغونډونې، چاپونې او د تحقيق د اخلاقياتو په چوکاټ کښې جواز نۀ لري. داسې استثنا وو (Exceptions) ته که کلتوري او ټولنيز رنګ ورکول او د عموميت د اصول (Generalization) پراوړه د يو څو کسانو يا خپل خواهشات پر ټولنه تپل يو ادبي خيانت ګڼل کېږي. ولې چې هغه د يوۀ قام ياقبيلې په حقله د لوستونکو او را روان وخت د محقيقنو او کره کتونکو غلطې رائې جوړولی شي.

د فولکلور راغونډونې په روان بهير کښې يوه بله تېر وتنه دا هم ده چې اولسي تخليقات دې د مذهبي او شرعي رواياتو و معياراتو ته راکوز کړل شي. لکه چې ډېر روايات او دودونه داسې شته او پاتې شوي دي چې د ټولنې د ځانګړي صفتونو، لکه د وګړو جمهوري رويه، سيکولر او د مذاهبو او مسالکو تر منځ د يو والي او مينې پېغامونه او پېرزوينې د نارينه وو او ښځينو تر منځ د ټولنيز تعامل (Social Interaction) کلتوري ګنجايشونه او دغسې نور ډېر موضوعات شته چې د کلتور او تهذيب ځانګړنې څر ګندوي. ځکه نو دا ټول اړخونه په نظر کښې نيول پکار دي او کوم تش په نامه فولکلورستان چې دغه ځانګړنې تر خاورو لاندې کوي په علمي توګه دې د هغوئ د فکر او نيت محاکمه وشي.

زياتره پښتانۀ فولکلورستان او کره کتونکي په دې اند دي چې د اولسي ادب په تخليق کښې لويه برخه د ښځو ده. په دې حقله د ښاغلي سيد خير محمد عارف، استاد سيال کاکړ، نوازطاهراو راج ولي شاه خټک نظرونه د ياد وړ دي. خو اوس په ټولنه کښې که د ښځينو و حالت او ازادي

ته وکتل شي نو په ښکاره په دې خبره کښې هېڅ شان صداقت نۀ ښکاري. د مثال په توګه پښتنه پېغله چې په ټپه، غاړه یا سندره کښې کوم ځوان ستايي یا خوښوي یې ایا دا ځوان، اتل یا کردار حقیقي دی که د هغې د خیال پېداوار (Fantasy)دی؟ دغه سوال ختیځ پوهه مېرمن بېنډه کټ ګریما په خپل تحقیقي اثر A performance of Emotion among Pashtun Women کښې پورته کړی دی او هغه هم دغه پایلې ته رسي چې، "دغه ټولې رومانوي سندرې، ټپې چې د اولسي ادب برخه دي، کورټ د ښځینو خیالي دنیا ده او د حقیقت سره هېڅ شان نزدیکت نۀ لري".(12)

اوس په دې بیان کښې څومره صداقت دی؟ او دا د پښتني ټولنې پر کلتوري عمل څومره دلالت کوي؟ پخپله یوه لویه پوښتنه ده. له دې څخه د د پښتني پېغلې تحلیل نفسي هم په عمل کښې راتلای شي.

باید محقق او فولکلورپسته په دې حقیقت هم خبر وي چې په روایت او کلتور کښې د فولکلوري اصنافو (منظوم او منثور ) د معیاري کولو تر شا کومې فني، فکري او کلتوري پیمانې کار کوي. داخبره خو پر خپل ځای ثابته ده چې د نظمي اصنافو تخلیق د عملي حقیقت سره تعلق درلودلی شي. خو دغه د اجتماعي تجربې په حیث وګڼي او ټولنې څۀ ډول خپلوي دا په زړۀ پورې عمل دی. د پښتني فولکلور تر ټولو لوئ سند دا هم دی چې دلته په تاریخي توګه لرغونې ټولنه کښې هر فرد شاعر پاتې شوی دی. د لفظونو په مرسته د خپل ضمیر او زړۀ اواز ته، د شعر جامع وراغوستل دلته د خلګو داسې وصف دی لکه چې هغوئ د خوراک او څښاک کولو خصوصیات لري. نو دا هېڅ ویاړ یا حېرانتیا نۀ ګڼل کېده که یو کس ډېر په زړۀ پورې شعري یا نثري فولکلوري فن پاره ووائي. په دې ترڅ کښې چې هر کس دومره ذوق، علم او فن لري چې د فولکلوري اصنافو پر فکري یا فني اړخ سوال و کړي او په هغه کښې زیاتونه یا کمبوت راولي دا پر خپل ځای د یوې داسې ټولنې څرګندونه کوي چرې چې تخلیقي عمل ژوندی وي. خو بیا هم د فکلور دغه اړخ په پوره علمي صداقت سره کتل ډېرې مهمې خبرې رابرسېره کولای شي.

د یوې شفاهي ټولنې په حیث پښتانهٔ اوس هم په روایتي انداز سره خپل ژوند کوي. د دې سیمې ټولنیز، ثقافتي طبقاتي، صنفي، او نسلي تاریخ په مستند ډول نهٔ دی لیکل شوی. ځکه نو د فوکلوري اصنافو او د نورو لیکل شویو منابعو په مقایسه د تېر وخت هغه سیاسي او تاریخي واقعات رابرسېره کېدای شي چې هېڅچا د تاریخ په پاڼو کښې نهٔ دي خوندي کړي.

اوس کوم څېړونکي چې پښتونولي نېغ په نېغه د مذهب اسلام پرتو یا سایه ګڼي او د دې روایت تعمیر پر مذهبي خښته ږدي هلته داسې سوالونه او اړخونه کورټ غېرحقیقي او غیر اخلاقي ګڼل کېږي*.

د فوکلور او شفاهي روایت ته په حقیقت په هنداره کښې کتل ډېر مهم دي. یو څهٔ داسې فولکلورستهان هم شته چې د اولسي شاعرۍ، او نورو صنفونو ته د تکمیل او بشپړتیا په عقیده ګوري. لاکن فولکلور اخیر د یوې قبایلي ټولنې تخلیق وي چې په کښې د ډېرو ښېګړو سره سره ډېر عبث اوله جوازه لوېدلي کارونه په کښې کېږي، او ځای په ځای دا ټول عبث کارونو ته جواز هم ورکول شوی وي. ځکه نو داخبره په خصوصي توګه په پام کښې نیول دي چې د دې عملي او حقیقي بڼه نوره هم روښانه شي.

د پښتني ټولنې (لر اوبر) په فولکلور کښې چې څومره تنوع دی هغه شاید چې په ډېرو قبیلوي ډتوکي به نهٔ وي. لکه څنګه چې دلته بیله بیلې لهجې دي. هم دغه ډول ډېر قبیلوي اصناف لکه د مروتو کسرونه، کاکړۍ غاړې، د سلېمان خېلو نارې، د هوتکو نارې، ساندې، د اتڼ نارې، چاربیتې، بلندۍ، سندرې، ټپې او دغسې نور ډېر صنفونه دي چې د هرې علاقې او خپل ځان ته تخلیق کړی وي. دلته خبره دا ده چې په قبیلوي لحاظ چې څومره تنوع (Diversity) شتون لري، هغومره زیات تحقیقي مواد په لاس راتلای شي. وګړي د بېلابېلو اصنافو سره

---

* که څهٔ هم د کلتور او روایت ساحه تر مذهب او سلوک (تصوف) زیاته ارته ده او دغه دواړه د کلتور مهمي برخي او اجزا دي خو اوس یې په غیر استدلالي توګه د کل حیثیت موندلی دی، او زیاتره پښتانه لیکوالان (اوسني او پخواني) هم دغه تاثر مخ په وړاندې بیایي

خپلي ځانګړي تخليقي تجربې کوي. لکه چې د اتڼ د نارو په حقله داخبره په ثبوت رسېږي چې په هره سيمه کښې خلګو خپلې نارې او د هغه سره خپل د اتڼ چالونه تخليق کړي دي او هم دغه ډول د نکلونو د نارو په حقله هم مونږ ته بېل بېل منظومې پيرزويني په نظر راځي.

***

# حوالې

(1)University library u of Illinois at Urbanachapaigh. www.Library. Illions. Edu/special collections/folklore accessed on august 28, 12:09pm.

(2) Neo.logism Dictionary (M.A Zyar) Eiglish.Pashto (Academy of sciences Kabul )

(3) http://folklore.missouri.edu/whatis.html

(4) نارنګ، ډاکټر ګوپي چند، جدیدیت کې بعد، خپرونکی سنګ میل پبلکیشن لاهور، ۲۰۰۶ء، ص ۱۹

(5)Tagore Glimpses of Bengal , mammilla London 1921,P.100

(6) Tagore Glimpses of Bengal , mammilla London 1921,P.100

(7) ibid Goff , Rached Germstar.byu.edu/perspective2003. Accessed on Aug 29, 2013

(8) ibid

(9) خټک، ډاکټر راج ولي شاه، د پښتو ادبي تحریکونه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي، سن اشاعت مخ ۱۹

(10) Ibid P.21

(11) شینواري دوست محمد دوست. مخ ۲۱

(12) Grima,Bendicte, A performance of emotion among Paxtun Women page 153 Oxford Pakistan